# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومې ۱۸مه | د ۲۰۲۰ د جنوري اتمه | ۴۹٤یمه گڼه


## د امریکا او ایران کړکیچ؛

### حامد کرزی: امریکا دې له ترخو تجربو درس واخلي او معقول چلند دې غوره کړي




۳

مالیې وزارت له قانوني پوښښنه بهر اداره ده؟

۲ مخ

آیا د سلیماني وژنه امریکا ته د احتمالي قریب الوقوع خطر مقابله وه!؟

۲ مخ

که اولادونه لرئ، دا غوښتنې ترې مه کوئ

۵ مخ

## بهرنیو چارو وزارت: بامیان ولایت ته د سپاه پاسداران د نوي مشر د سفر په تړاو پلټنې کوو


بهرنیو چارو وزارت ویلي چې په ۲۰۱۸ ز کال کې بامیانو ولایت ته د ایران د سپاه پاسداران ځواک د قدس څانگې د نوي مشر جنرال اسماعیل قاآني د سفر په اړه پلټنې کوي.

دا په داسې حال کې ده چې له دې وړاندې په ټولنیزو شبکو کې داسې تصویرونه او ادعاوې خپرې شوې، چې گواکې قاآني په مستعار نامه یو کال مخکې د ایران د سفیر د مرستیال په توگه بامیانو ته تللی و او هلته یې له والي سره کتلي وو. بلخوا د بامیانو والي بیا ویلي چې هغه مهال د اسماعیلي په نامه کس د ایران له سفارته هغه ولایت ته ورغلی و.

خو د بهرنیو چارو وزارت سرپرست ادریس زمان په کابل کې یوې خبري غونډې ته ویلي چې قاآني هېڅکله په افغانستان کې د ایران د سفیر د مرستیال په توگه کار نه دی کړی. نوموړي زیاته کړې: «موږ دا موضوع څېړو چې دا سفر څه وخت او په څه ډول شوی او موخه یې څه وه. په دې غور روان دی. اوس دومره درته ویلی او تاییدولای شم چې ښاغلی قاآني هېڅکله د ایران د سفیر مرستیال نه و».

له دې وړاندې په ټولنیزو رسنیو کې له یوه ایراني پلاوي سره د بامیانو د والي تصویرونه خپاره شوي وو او ادعا شوې وه چې اسماعیل قاآني د دغه پلاوي مشري کوله. د بامیانو والي طاهر زهیر بي بي سي ته ویلي چې دغه کس اسماعیلي نومېده او ځان یې په کابل کې د ایران د سفارت د مرستیال په توگه ورپېژندلی و چې دغه پلاوی د یوه روغتون د ودانیزو چارو د کتلو په موخه هغه ولایت ته ورغلی و.

## د خلیلزاد تازه سفر به د سولې د هوکړې لاسلیک ته زمینه برابره کړي




۵ مخ

کتاب


۴ مخ

## فوق العاده اوسئ




د دې کتاب لیکوال رابین شرما وایي، په هره تیاره پسې رڼا وي او دا د ژوند قانون هم دی. نو وېره مو له زړه وباسئ، اوړو ته مو څنډ ورکړئ او استوار گامونه واخلئ. له ستونزو سره مخ شئ، د حل لار ورته ولټوئ او مبارزه ور سره وکړئ. له ستونزو سره مخ کېدل تاسو قوي کوي او ژوند کولو ته مو هڅوي. بریا د هغه چا په برخه ده چې په لټون پسې یې راوتلي وي.

## سوداگرۍ وزارت: تېره میاشت د هوايي دهلېزونو له لارې ۱۰۹ ټنه توکي بهر ته صادر شوي



سوداگرۍ وزارت ویلي چې په تېره ډسمبر میاشت کې د ۱۷ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت، په ۷۸۷ الوتنو کې ۱۰۹ ټنه بېلابېل توکي د هوايي دهلېزونو له لارې نورو هېوادونو ته صادر شوي دي.

د یاد وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې له یادو توکو ۲۵ ټنه یې چین، ۳۰ ټنه هند او ۲۲ ټنه جرمني، فرانسې، سویډن، بلجیم، سویس او رومانیا ته صادر شوي دي.

د خبرپاڼې له مخې، سعودي عربستان ته پنځه ټنه، متحده عربي اماراتو ته ۱۹ ټنه، برېټانیا ته شپږ ټنه او ترکیې ته دوه ټنه توکي صادر شوي دي.

سوداگرۍ وزارت ویلي چې له دې مخکې په نومبر میاشت کې په سلو الوتنو کې د ۲٤ میلیونو ډالرو په ارزښت، ۱۰٦۲ ټنه توکي نورو هېوادونو ته صادر شوي دي.

د سرچینې په خبره، یادو هېوادونو ته انار، زعفران، هنج، غوزان، انگور، ختکې، بادام، جلغوزې، غالۍ، قره قل، طبي توکي، د پسه څرمن، توت او پسته استول شوي دي.

## منابع: توافق روی کاهش خشونت‌ها در انتظار تائید رهبر طالبان است



با گذشت نزدیک به یک ماه از خواست امریکا برای کاهش خشونت‌ها از سوی طالبان، از پذیرفته شدن این خواست خبری نیست.

منابع آگاه از گفتگوهای صلح می‌گویند که طالبان تصمیم شان را درباره کاهش خشونت‌ها در افغانستان، از بهر رسیدن به یک توافق صلح با واشنگتن، با زلمی خلیلزاد در میان نگذاشته اند.

این منابع می‌افزایند که رهبران طالبان در بارهٔ کاهش خشونت‌ها ممکن است در آینده نزدیک به توافق برسند.

در حالی که زلمی خلیلزاد نماینده ویژه امریکا برای صلح افغانستان از چهار روز بدین‌سو در قطر است، اما از سرنوشت از سرگیری گفتگوهای او با طالبان از بهر نهایی توافق صلح خبری نیست. اما برخی از فرمانده هان پیشین طالبان به نهایی شدن تصمیم طالبان از بهر کاهش خشونت‌ها و از سرگیری گفتگوهای صلح این گروه با طالبان خوشبین استند.

سید اکبر آغا، فرمانده پیشین طالبان گفته است: «در بارهٔ آتش بس که خواسته بودند، اما طالبان به کاهش خشونت‌ها صلاح دیده اند، ممکن است امروز در این باره توافق کنند و با طالبان به موافقه برسند و در بارهٔ توافقنامه گپ بزنند».

مولوی عبدالشکور مطمئن، رئیس کمیته ملی المپیک در زمان طالبان، گفته است: «شورای نظامی طالبان موافقه کردند، صرف منتظر امضای امیر امارت طالبان استند».

در همین حال حکومت افغانستان می‌گوید که نُه دور گفتگوهای خلیلزاد با طالبان به علت عدم حضور حکومت افغانستان در این گفتگوها تاکنون به نتیجه نرسیده است.


Shigal English Academy

شیگل انگلیش اکاډمي

SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019

Easy English learning

DEL

TOEFL iBT

shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

دریــځ

## مالیې وزارت له قانوني پوښښه بهر اداره ده؟

په مالیې وزارت کې د پراخ فساد، ناقانونیو او نورو ستونزو په اړه پرله پسې خبرونه خپرېږي، خو هېڅوک او اداره په دې په وزارت کې د دغو تورونو په اړه څېړنې نه کوي او د ناقانونیو عاملین تر عدلي او قضایي تعقیب لاندې نه راولي.

پر مالیې وزارت ډېر تورونه دي چې ځینې یې دلته یادوم: دغه وزارت له مرکزي بانک څخه ۱۵ میلیارده افغانۍ په ناقانونه ډول خپل حساب ته لېږدولې دي. ویل کېږي چې د افغانستان د نافذه قوانینو خلاف، ولسمشر د سترې محکمې رییس او خپل دویم مرستیال ته شفاهي ویلي چې په یوه نارسمي پاڼه ولیکي، چې د پیسو دا لېږد قانوني دی او هغوی همدا کار کړی دی او آن پر پاڼه یې لاسلیکونه هم کړي دي. دغه راز د وزارت چارواکو له ملي بانک څخه هم غوښتي چې ۸۰۰ میلیونه افغانۍ له وخت وړاندې مالیه مالیې وزارت ته ولېږدوي. له بله اړخه ویل کېږي چې مالیې وزارت په ناقانونه ډول میلیاردونه افغانۍ له یوه کد څخه بل کد ته لېږدولې دي. د دې تر څنګ، د ۱۳۹۷ لمریز کال د بودجې په لګښت کې هم ډېرې پوښتنې او اندېښنې شته او د ولسي جرګې ځینې غړي وایي، چې ډېرې پیسې ناقانونه لګول شوې او یا هم غلا شوې دي. تر ګردو لویه نیوکه دا ده چې د ۹۱ کد پیسې په ناقانونه ډول او تر پخوا زیاتې لګول شوې دي چې حساب یې هم روڼ نه دی. له بله اړخه په ګمرکونو کې هم د پراخ فساد په اړه رپوټونه شته چې ځینې یې بیخي روښانه هم دي. له بله اړخه مالیې وزارت د دې لپاره چې خپل عواید لوړ وښیي، له ځینو ادارو او آن شرکتونو د څو کلونو مالیه له وخت وړاندې اخیستې ده او همداسې ډېر نور ناقانونه کارونه یې هم کړي دي.

حیرانوونکې ده چې د دغو ناقانونیو پر وړاندې هېڅوک غږ نه پورته کوي. په ولسي جرګه کې ځینې غړونه پورته شول، خو ښایي د ځینو معاملو پر اساس بېرته غلي شوي وي. د مالیې وزارت ځینې کارونه په ښکاره د اساسي قانون او نورو قوانینو خلاف دي، خو هېڅوک یې مخه نه نیسي. اوس مالیې وزارت ورو ورو داسې شوی لکه له قانون څخه چې لوړ وي او یا هم د افغانستان د قوانینو له پوښښ څخه بهر اداره وي. دا سمه ده چې د مالیې سرپرست وزیر د ولسمشر نږدې ملګری او سلاکار دی. دا هم سمه ده چې د دغو ناقانونه کارونو لویه برخه خپله د ولسمشر پر غوښتنه او امر شوي دي، خو د دغو ناقانونیو پر وړاندې غلي پاتې کېدل له افغانانو او افغانستان سره ظلم دی.

اوس وخت دی چې ټول په مالیې وزارت کې د دغو ناقانونیو او غلاوو پر وړاندې غږ پورته کړي. ولسي جرګه او مشرانو جرګه باید دا مسئله جدي وګڼي. عدلي او قضایي ارګانونه هم باید غلي پاتې نه شي. له بله اړخه مدني ټولنې، رسنۍ، د فساد ضد غیر دولتي ادارې او آن سیاستوال باید غږ پورته کړي او مالیې وزارت بېرته د افغانستان د اساسي قانون او نورو قوانینو تر پوښښ لاندې راولي. له دې پرته به په راتلونکي مالي کال په دغه وزارت کې لا زیاته غلا، ناقانوني او خپلسري وي او له اقتصادي او مالي اړخه به افغانستان ته لوی زیانونه واړوي.

# آیا د سلیماني وژنه امریکا ته د احتمالي قریب الوقوع خطر مقابله وه!؟

لیکنه: برکت الله اریوبي/ د نړیوالو حقوقو له نظره تحلیل

تېره جمعه د بغداد هوایي ډګر ته څېرمه د ایران سپاه پاسداران اړوند، د قدس ځواکونو مشر جنرال سلیماني په یو هوایي برید کې ووژل شو. سلیماني تر مشر خامنه یې وروسته، په ایران کې دویم نفوذي کس و. دې پېښې په سیمه ییزه او نړیواله کچه پراخ غبرګونونه راوپارول. دا پېښه دایران او متحده ایالاتو په اړیکو کې یو بل اغېزمنوونکی فکتور دی، چې ایران یې د ځواب ورکولو (دفاع) خبره کوي. د دې پېښې مسوولیت امریکا پر غاړه واخیست، نوموړی یې د نړۍ لومړۍ درجه ترهګر وباله او ټرمپ وویل چې دا کار باید ډېر پخوا تر سره شوی وای. ټرمپ ادعا لري چې سلیماني د دوی ګټې او امریکایان په نښه کړي وو او لا یې په نښه کول. همدا راز د زرګونو بې ګناه انسانانو په وژلو کې یې لاس درلود. امریکا دغه چاره د مخنیوونکې دفاع( preventative self defence) په نوم توجیه کوي. همدا راز دوی په زغرده وایي چې سلیماني امریکایي اهداف په نښه کول، د امریکا ګټې یې تر ګواښ لاندې راوستې وې، چې ښه بېلګه یې په عراق کې په دې وروستیو کې د مظاهره کوونکو له لوري د امریکا سفارت ته اور ورته کول وو؛ نو ځکه مونږ حق لرو چې نوموړی ترهګر وبولو او مخکې له دې چې د امریکا نورو ګټو ته خطر پېښ کړي، له منځه یې یوسو. د ترهګرۍ مسئله خو جلا ده او په دې اړه اوس بحث نه کوو، چې سلیماني ترهګر و که څنګه؟ په دې لیکنه کې موږ هڅه کوو څو پوه شو چې آیا په نړیوالوحقوقو کې د امریکا متحده ایالاتو دا عمل د مخنیوونکې دفاع په نوم جواز لري او که نه؟ او بیا ایران حق لري چې د نړیوالو حقوقو پر بنسټ له ځانه مشروع دفاع وکړي؟

دې پوښتنې ته د ځواب موندلو لپاره اړینه ده چې د مخنوونکې دفاع ماهیت وپېژنو او په اړه یې پوه شو، وروسته به دا پېښه په پورتنې کانټکسټ کې وڅېړو: کله چې یو هېواد له قریب الوقوع خطر سره مخ وي او له ځانه د همدې پېښېدونکي خطر دفاع ته متېې را بډ وهي، همدې ډول دفاع ته مخنیوونکې دفاع( preventative self defence) وایي. د نړیوالو حقوقو له مخې، دولتونه اړ دي چې له نورو هیوادونو سره خپلې اړیکې په سوله ییزه توګه ټینګې کړي، له زور او تهدید څخه کار نه اخیستل په نړیوالو اړیکو کې یو اصل دی. د دې اصل له مخې هېوادونه نه شي کولای چې د بل هېواد پر ضد له زوره کار واخلي او حتی تهدید هم د پورتنۍ مادې له مخې ډېر په صراحت منعه شوی دی. هر هېواد اړ دی چې د بل هېواد ملي خپلواکۍ او ملي حاکمیت ته درناوی وکړي او هېڅ داسې عمل تر سره نه کړي، چې خپلواکي او ملي حاکمیت یې نقض شي. په نړیوالو اړیکو کې د زور نه کارونې اصل دومره مهم دی، چې د «آمره قاعدې» حیثیت یې خپل کړی او دا قاعده په هېڅ صورت نه شي نقضېدای.

له بل لوري د منشور ۵۱ مادې پر اساس، هر هېواد حق لري چې له خپلو ګټو څخه دفاع وکړي. هر کله چې یې سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او ... ګټې په خطر کې ولوېدې، کولای شي ترې دفاع وکړي او یا یې چې کله ملي خپلواکي او ملي حاکمیت نقض شو، کولای شي د خپلو ګټو دفاع په موخه اقدامات تر سره کړي. همدې ډول دفاع ته په نړیوالو حقوقو کې مشروع دفاع وایي.

د مشروع دفاع اصل د ملګرو ملتونو منشور په ۵۱مه ماده کې راغلی دی. د نړیوالو حقوقو ځینې کارپوهان وایي چې د ملګرو ملتونو منشور له ۵۱مې مادې څخه باید پراخ تفسیر ونه شي، یانې د زور کارونې اصل یوازې یو مورد استثنا لري او بس، چې هغه مشروع دفاع اصل دی. که چېرې له دې مادې څخه پراخ تفسیر کېږي، دا په حقیقت کې نوموړې ماده بې اغېزې کوي.

په ۱۹٤۹ ز کال کې د نړیوالو حقوقو کمېسیون ټولو غړیو مخنیوونکې دفاع رد کړه. د امریکایي هېوادونو تر منځ د متقابلو مرستو تړون ۳مه ماده هم په ظاهره توګه د منشور هماغه پورتنۍ غوښتنې تکرار کړې، لیکن په ٦مه او ۷مه ماده کې یې ټولیز او مبهم عبارات راوړي دي، چې کېدای شي ترې بېلابېل تفسیرونه وشي او په دې توګه یې خپلسري تفسیر ته لاره پرانیستې ده. همدا مسئله د کیوبا په بحران کې راپورته شوه.

اساساً دا ډول معاهدات ښیي چې لوی قدرتونه غواړي د زور کارونې د مخنیوي په حق کې آزاد لاس ولري او په دې توګه د مخنیوونکې دفاع زمینه برابره کړي. په ۱۹۸۱ ز کال کې د ملګرو ملتونو امنیت شورا کې په صریحه توګه اسراییلو له دې دوکتورینو څخه ملاتړ او دفاع وکړه. د دې دوکتورینو د پلویانو له جملې څخه یې مګ دوګال وایي، چې دا ډېره خندوونکې ده چې د دې عصر په تسلیحاتو، اټومي او ټولوژنې اسلحو په شتون کې دې هېواد انفعالي حالت کې پاتې شي او پرې دې ښودل شي، چې لومړۍ حمله تر سره او بیا دفاع وشي؛ په داسې حال کې چې د قریب الوقوع خطر له ځان سره لرو. دوی ادعا لري چې د ملګرو ملتونو منشور ۵۱مه ماده په نړیوالو عرفي حقوقو کې د نورو استثناآتو ناسخ نه ده؛ بلکې یوازې یوه استثنا یې شمېرلې ده.

له قریب الوقوع خطر سره د مقابلې په مانا، مخنیوونکې دفاع د ملګرو ملتونو منشور یوې مادې ناوړه تفسیر دی، چې قبلول یې په حقیقت کې د منشور په تابوت وروستی میخ ټک وهل دي. د دې نظریې د رد په اړه حقوقپوهانو دوه استدلالونه کړي دي:

۱- د استناد وړ عرفي قاعده په حقیقت کې منشور په ځانګړې توګه نه ده پیشبیني کړې، لیکن مشروع دفاع او د خپل ځان حمایت او حفاظت په اړه یې مقررات بیان کړي.

۲- د منشور ۵۱مې مادې، ټول پخواني حاکم حقوق نسخ کړي او له مشروع دفاع پرته یې هېڅ ډول بلې استثنا ته اشاره نه ده کړې.

یو بل ټکي ته اشاره مهمه ده او هغه دا چې په عملي توګه عرفي نړیوالو حقوقو ته د اوسنیو نړیوالو حقوقو ورګرځېدنه سمه نه ده. که پورتنی تفسیر ومنل شي، نو هېوادونه په ځانګړې توګه لوی قدرتونه به له دې مسئلې څخه ابزاري او تبلیغاتي ګټه اخلي، دوی به هڅه کوي، څو لوی خطر چې واقعاً نړیوالې سولې او امنیت ته متوجه دی، کوچنی او کوچنی به لوی ښیي. لومړی مورد یې کولای شو په ۲۰۰۳ ز کال کې پر عراق باندې د امریکا په حمله کې روښانه کړو. سره له دې چې د ملګرو ملتونو ځانګړې مفتشینو په عراق کې د اټومي وسلو شتون په ځلونو رد کړ، امریکا او انګلیس د خپلو ګټو په خاطر د اټومي وسلو له منځه وړلو لپاره اقدام وکړ، جالبه دا چې دوی په خپله څو میاشتې وروسته دا ومنله چې اټومي وسلې نشته. دویم مورد یې د اسرایلو په اړه صدق کوي. سره له دې چې اسراییلو پر عربو او فلسطین نظامي حمله وکړه، لیکن امریکا دا مسئله په امنیت شورا کې ویټو کړه او په ډېرو نورو کنفرانسونو او تجمعاتو کې یې توجیه کړه او د نړیوالې سولې او امنیت حافظ عملیات یې وبلل.

د قاسم سلیماني له وژلو وروسته، ټرمپ سره له دې چې ادعا یې وکړه، چې دا کار یې د یو بل جنګ د مخنیوي په منظور تر سره کړ، لیکن هېڅ داسې شواهد نشته چې سلیماني دې دا کار کاوه، نه هم امریکا په دې اړه اطلاعات شریک کړي دي. نیویارک ټایمز راپور ورکوي چې د امریکا اطلاعاتي او جاسوسي اداراتو کې په دې اړه اوس هم اختلاف شته، چې نوموړی برید دې توجیه کړي. د نوموړې ورځپاڼې په خبره، ټرمپ دا تصمیم یو ځل د ۲۰۱۹ ز کال د ډسمبر په ۲۸مه رد کړی و، په عراق کې د امریکا سفارت ته اور ورته کولو څخه وروسته، ټرمپ دا تصمیم تایید کړ. په داسې حال کې چې هېڅ شواهد نشته چې سلیماني دې په نوموړې پېښه کې ښکېل وي. د ایران په چارو کې د امریکا متحده ایالاتو ځانګړی استازی برایان هوک له «العربیه» شبکې سره په مرکه کې وویل، چې جنرال سلیماني په امریکا د یوې قریب الوقوع حملې په درشل کې و. رویټرز د هوک له قوله لیکي چې سلیماني غوښتل په عراق، لبنان، سوریه او نورو هېوادونو کې د امریکایي ګټو او امریکایي اتباعو پر ضد حملې پلان کړي. هوک زیاته کړه چې ټرمپ په دې کار هغه له صحنې لرې او په دې توګه یې یو لوی کار تر سره کړ. نوموړی وایي چې سلیماني د ملګرو ملتونو له لوري هم د سفر له بندیز سره مخ و. د امریکایانو په باور، سلیماني په یمن، سوریه، عراق او لبنان کې په ډېرو حملو کې لاس درلود، چې له کبله یې په لسګونو امریکایانو ووژل شول، نو ځکه دوی د خپلې دفاع په موخه دا کار تر سره کړ.

مایک پنس د جمهور رییس مرستیال هم ادعا وکړه، چې ایران د سپټمبر په ۱۱مه پېښه کې لاس لري، دا په داسې حال کې ده چې نوموړې پېښې ته پلټونکې ډلې په راپور کې دغه ډول یو څه حقیقت نه ښکاري. همدا راز نورو امریکایي مقاماتو د سلیماني د قتل د توجیه لپاره ضد او نقیض توجیهات بیان کړل.

له پورتنیو څرګندونو او توجیهاتو څخه په واضح توګه معلومېږي، چې امریکا د سلیماني ترور ته د مخنیوونکې مداخلې( preventative self defence) په نوم توجیه لټوي، لیکن متحده ایالاتو په دې اړه هېڅ اسناد او مدارک نه دي وړاندې کړي، چې وښیي په رښتیا دې هم سلیماني امریکایي ګټې او موخې تر برید لاندې راوستې وي او یا د قصد لري چې امریکایي موخې په نښه کړي. پر دې سربېره، په خپله امریکا کې یوه ډله خلک د دې چارې مخالف وو، یو امریکایي سناتور په ډاګه وویل چې د سلیماني وژنه زمونږ د دفاع وزیر وژنه ده.

داسې ښکاري چې په ظاهره امریکا هڅه کوي چې د سلیماني وژنه د مخنیوونکې دفاع( preventative self defence) په نوم توجیه کړي، خو په عملي توګه متحده ایالات په دې کې پاتې راغلي، چې وښیي په رښتیا سلیماني د امریکایي ګټو په نښه کولو کې لاس درلود او یا یې پر امریکایي اهدافو باندې د حملې پلان درلود. که وروستی حدس سم وي، نو بې له شکه دا چاره د نړیوالو حقوقو خلاف ده او د منشور صریح نقض دی. هسې خو په نړیوالو اړیکو کې په ځلونو منشور تر پښو لاندې شوی او بابیزه ګڼل کېږي. په داسې وخت کې ریالېزم تیوري ډېره ښه د تطبیق وړ ده، چې وایي: «هژمونیکې او قوي دولتونه هڅه کوي چې د خپلو ګټو د تحقق په موخه، ځینې نهادونه د نړیوالو سازمانونو په نوم او قواعد د نړیوالو حقوقو په نوم رامنځ ته کړي، چې له مخې یې خپل اقدامات توجیه کړي، سره له دې چې سلیم عقل او منطق به یې ردوي. که امریکا دا ثابته نه کړه چې دا اقدام یې د نړیوالو حقوقو مخالف نه دی، بیا نو ایران کولای شي د مشروع دفاع او تلافي جویانه اقداماتو په نوم په ځوابي ګامونو لاس پوري کړي.

# د امریکا او ایران کړکیچ؛

## حامد کرزی: امریکا دې له ترخو تجربو درس واخلي او معقول چلند دې غوره کړي




د روان وضعیت د کنټرول لپاره د سیمې هېوادونه په خپلو کې لا ډېرو همکاریو او همغږیو ته اړتیا لري. پخواني ولسمشر حامد کرزي په تهران کې د فارس خلیج په کنفرانس کې د وینا پر مهال ویلي، سیمې ته هغه وخت امنیت راځي چې ټول له یو بل سره متحد شي او سیمه ییزه همکاري پیاوړې شي. د نوموړې په خبره، امریکا په افغانستان کې په خپلو موخو کې ناکامه ده او یا یې له صداقته کار نه دی اخیستی، نو له همدې امله دلته جګړې پراخې شوې دي. بلخوا د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر بیا ویلي چې ښايي د سلیماني وژل کېدل او تاوتریخوالی پر افغان سوله ناوړه اغېز وکړي. ده پر ایران او امریکا غږ کړی چې د سولې او زغم لار خپله کړي.

پرون په ایران کې د فارس خلیج کنفرانس یا د تهران د خبرو اترو فورم جوړ شوی و. په دغه فورم کې د ډېرو هېوادونو پخوانیو او اوسنیو حکومتي چارواکو ګډون کړی و. پخوانی ولسمشر حامد کرزی هم د دغه سیمه ییز کنفرانس د مهمو ویناوالو له ډلې و. نوموړي په دغه کنفرانس کې د خبرو پر مهال د قاسم سلیماني وژل کېدو ته په اشارې ویلي، چې امریکا دې له تېرو تجربو درس واخلي. د ده په خبره، امریکا ته نه ده پکار چې تر دې ډېر په سیمه کې له زور زیاتي او تاوتریخوالي کار واخلي، بلکې تېرو تجربو ته په کتو دې خپل چلند معقول کړي.

حامد کرزي ویلي چې امریکا افغانستان ته د راتګ پر مهال دلته د یوه منظم حکومت د جوړولو، امنیت راوستلو، ترهګرۍ ختمولو، جګړو پای ته رسولو، اقتصادي ودې، سیمه ییزې همکارۍ او دایمي ثبات د راوستلو ژمنه کړې وه، خو دوی په دغو موخو کې بریالي نه شول. د کرزي په خبره، د امریکا اتلس کلن حضور نه یوازې دا چې په افغانستان کې یادې موخې تر لاسه نه کړې، بلکې دلته یې جګړه اوږده کړه چې اوس هم هره ورځ د افغانانو له کورنیو قربانۍ اخلي.

ښاغلي کرزي همدا راز په سیمه کې پر روان وضعیت هم خبرې وکړې. نوموړي وویل، د ټولې سیمې ثبات، پرمختګ، ژغورنه، امنیت او پیاوړتیا په همکارۍ او مشارکت کې ده. ده ټینګار وکړ چې که سیمه دایمي پرمختګ غواړي، نو له یو بل سره باید صادقانه همکاري وکړي. نوموړي پر امریکا هم غږ وکړ چې له ایران سره د خبرو لار خپله کړي. د هغه په خبره، د تېرو څو ورځو تجربې ښايي امریکا ته خورا ترخې وي، نو له همدې امله دوی ته پکار ده چې معقوله لار غوره کړي او له نادریو لاس په سر شي.

ښاغلي کرزي د سولې په برخه کې هم د سیمې د هېوادونو رول مهم بللی دی. هغه ویلي، ایران، روسیې او چین د افغانستان د سولې له مسئلې سره تل همکاري کړې ده او په دې اړه یې کنفرانسونه جوړ کړي دي، خو امریکا هم دا هڅه کوي چې دلته سوله تامین کړي، نو د ده په خبره، افغانان له دوی د صادقانه چلند او رښتینو ګامونو تمه لري. نوموړي زیاته کړې چې په سیمه، افغانستان او ایران کې سوله او ثبات د ټولو افغانانو غوښتنه او هیله ده.

له دې سره جوخت د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر محمود قریشي هم پر امریکا غږ کړی، چې د زغم لار خپله کړي. قریشي ویلي، که په سیمه کې تاوتریخوالی او نادرۍ زیاتېږي، نو دا هر څه به په مستقیمه توګه د افغانستان د سولې پر مسئله اغېز کوي. قریشي ویلي: «موږ له ایران او امریکا غواړو چې له زغمه کار واخلي، که تاوتریخوالی او کشمکش ډېرېږي، نو د افغانستان د سولې پر پروسه ارو مرو اغېز کوي».

تر دې وړاندې هم داسې اندېښنې رابرسېره شوې وې، چې ښايي امریکا د سولې مذاکرات ژر پایلې ته ونه رسوي او اوس د قاسم سلیماني وژل کېدل ښايي دا مسئله نوره هم پېچلې کړي. بلخوا زلمی خلیلزاد بیا دوحې ته تللی دی، له طالب استازو سره یې ابتدایي لیدنه لرلې ده، خو رسمي مذاکرات نه دي پیل شوي.

## نوې شمېرې: تېر میلادي کال په افغانستان کې نږدې ۲۲۳۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده

تېر میلادي کال د ټول هېواد په کچه په ۱۹۲٦ وسله والو بریدونو کې څه باندې ۱۲۵۰۰ کسان وژل شوي، نږدې ۹۸۰۰ نور ټپیان دي او دغه مرګ ژوبله د وړم کال په پرتله ۱٦ سلنه کمې شوې ده.

د پژواک خبري اژانس راټول کړي معلومات ښيي چې په منځنۍ کچه، تېر کال هره ورځ ٦۱ کسانو، خو وړم کال هره ورځ ۷۳ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې او وړم کال د اوړي موسم، خو تېر کال د مني موسم تر ټولو خونړی و.

تېر کال د وژل شوو او ټپیانو له هرو ۲۲ تنو، نهه د مني په موسم کې وژل شوي یا ټپیان شوي دي.

د پژواک خبري اژانس ورځني خپاره شوي راپورونه چې د بېلابېلو سرچینو د څرګندونو پر بنسټ جوړ شوي، ښيي چې په ۲۰۱۹ میلادي کال کې په ۱۹۲٦ بېلابېلو بریدونو کې



۱۲۵۲۲ کسان وژل شوي او ۹۷۷۱ نور ټپیان دي، خو په ۲۰۱۸ میلادي کال کې په ۲۳۹۰ بېلابېلو بریدونو کې ۱٦۰۱۰ کسان وژل شوي او ۱۰٦۷۹ نور ټپیان دي.

دغه راز وړم کال ۲۷۴، خو تېر کال ۲۱۴ هوايي بریدونه شوي او وړم کال ۷۸، خو تېر کال ۵٦ ځانمرګي بریدونه شوي دي.

د پوځي چارو پوه متقاعد جنرال عبدالواحد طاقت وايي چې د مخامخ نښتو مرګ ژوبله له دې امله لوړه وي، چې ښکېلې ډلې مخامخ پر جګړه بوخت وي او د یو بل پر وړاندې له هر ډول وسلو کار اخلي.

هغه وايي چې په هوايي او ځانمرګو بریدونو کې مرګ ژوبله ځکه ډېره وي، چې له یوې خوا دغه بریدونه درانه او له بلې خوا ځینې یې داسې وي چې ملکي وګړو ته هم پکې مرګ ژوبله اوړي. تېر کال تر ټولو ډېر (۱۷۵) بریدونه په ننګرهار، ۱٦۸ په فاریاب، ۱۳۴ په غزني، ۱۱۷ په کندهار، ۱۰۳ په هلمند، ۹۳ په کابل، ۸۲ په جوزجان، ۷۵ په لوګر او پاتې ۹۷۸ بریدونه په پاتې ۲۵ ولایتونو کې شوي، خو پژواک له بامیانو د برید راپور نه دی تر لاسه کړی.

د یادونې ده، چې تېر کال تر ټولو لږ (دوه، دوه) بریدونه په نورستان او پنجشېر کې دي. وړم کال هم تر ټولو لږ بریدونه (دوه په پنجشېر او څلور په نورستان کې) شوي وو.

## پر اساسي قانون د څار کمېسیون: د اساسي قانون د تفسیر مرجع لا هم د ابهام په حالت کې ده

د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمېسیون ویلي، د اساسي قانون د تفسیر مرجع لا تر اوسه د ابهام په حالت کې ده او اړینه ده چې دا په ډاګه شي چې د یاد قانون د تفسیر صلاحیت په کوم ارګان او بنسټ پورې اړه لري.

د هېواد د اساسي قانون د تصویب شپاړسمې کالیزې نمانځغونډه د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا د ۱۳۹۸ لمریز کال د جدی په ۱۷مه د علامه احمد علي کهزاد د سیمنارونو په تالار کې جوړه شوه. په دې غونډه کې دولتي چارواکو، د ملي شورا غړو، د پوهنتونونو استادانو او د علومو اکاډمۍ علمي غړو او کارکوونکو برخه اخیستې وه.

د علومو اکاډمۍ سرپرست رییس څېړنوال دوکتور عبدالظاهر شکېب دې غونډې ته ویلي، چې




د هر هېواد اساسي قانون د هماغه هېواد د خلکو لپاره د درنښت او ویاړ یو مهم سند ګڼل کېږي.

هغه زیاته کړې: «موږ هم د خپل ګران هېواد په اساسي قانون ویاړو او په ډېر درنښت یې نمانځو او دا ځکه چې د نړۍ د ډېرو هېوادونو د اساسي قوانینو په پرتله زموږ د هېواد اساسي قانون یوه مهمه او ارزښتناکه ځانګړتیا لري او هغه دا چې د دې قانون د مشروعیت اساس د اسلامي شریعت قرآني نصوص او نبوي لارښوونې دي».

په ورته وخت کې د اساسي قانون پر تطبیق د څار خپلواک کمېسیون غړي دوکتور عبدالرووف هروي ویلي چې دغه قانون څنګه چې لازمه ده، نه دی تطبیق شوی چې لامل یې په هېواد کې روانه ناامني، جنګونه او د بېلابېلو لورو له خوا دسیسې دي.

نوموړي د دغه مطلب په څرګندولو سره چې د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې کمېسیون یوازې د مشورې ورکولو صلاحیت لري، ویلي، د اساسي قانون د تفسیر مرجع لا تر اوسه د ابهام په حالت کې ده او لازمه ده چې په دې اړه علمي بحثونه وشي، څو جوته شي چې د اساسي قانون د تفسیر صلاحیت په کوم ارګان او بنسټ پورې اړه لري.

## سپاه پاسداران: هغه ځایونه به وسوځوو چې امریکا یې ملاتړ کوي

د ایران د سپاه پاسداران انقلاب ځواکونو عمومي قوماندان حسین سلامي امریکا ته بیا خبرداری ورکړی، چې د قاسم سلیماني غچ به واخلي او ډېر هغه ځایونه به وسوځوي، چې امریکا یې ملاتړ کوي.

جنرال سلامي په کرمان کې د سلیماني د جنازې په مراسمو کې په زرګونو وېرکوونکو ته په وینا کې دغه خبرداری ورکړی دی.

کرمان چې د سلیماني پلرنی ټاټوبی دی، د هغه په وېر کې په تورو پوسترونو پوښل شوی او نوموړی هملته خاورو ته سپارل شوی دی.

سلامي ویلي: «موږ به غچ واخلو، موږ به هر هغه ځای چې مهم وي، وسوځوو».

دا په داسې حال کې ده چې د سلیماني جنازه وړمه ورځ په تهران کې تر سره شوه چې ویل کېږي په واټونو کې یې په میلیونونو کسان راټول شوي وو.

له تهران وروسته د هغه او د امریکا د بې پیلوټه الوتکې په حمله کې د نورو وژل شویو کسانو مړي د قم مذهبي ښار ته ولېږدول شول، چې هلته یې هم د جنازې په مراسمو کې په زرګونو کسانو ګډون کړی و.

په ورته وخت کې د امریکا دفاع وزیر مارک اېسپر ویلي، د امریکا پوځ به د ایران پر فرهنګي ځایونو برید ونه کړي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ایران ته ګواښ کړی و، چې که د سلیماني د غچ لپاره پر امریکایي هدفونو حمله وکړي، د دغه هېواد فرهنګي ځایونه به په نښه کړي.

اېسپر د دې پوښتنې په ځواب کې چې آیا د امریکا پوځ به د ایران پر فرهنګي ځایونو برید وکړي او که نه، په ټینګار سره وویل چې پوځ به د جګړې قوانین مراعات کړي.

د ټرمپ دغه خبرداری پر ایران سربېره د بشري حقونو د څار سازمان اندېښنه هم راپارولې او ویلي یې دي چې دغسې یو اقدام به جنګي جنایت وي.



د یادونې ده چې د ملګرو ملتونو امنیت شورا په ۲۰۱۷ ز کال کې یو پرېکړه لیک تصویب کړ، چې په هغه کې پر فرهنګي سیمو برید جنګي جنایت بلل شوی.

د فرهنګي میراثونو د خوندیتوب لپاره د ۱۹۵۴ ز کال د هاګ کنوانسیون هم دا ډول برید جنګي جنایت بولي. اېسپر په خپلو څرګندونو کې په دې اړه چې د فرهنګي سیمو په نښه کول جنګي جنایت دی که نه، څه نه دي ویلي.

د یادونې ده چې په ایران کې ۲۲ فرهنګي ساحې د ملګرو ملتونو د علمي، فرهنګي او تعلیمي ادارې (یونسکو) د نړۍ د میراثونو په فهرست کې شامل کړې دي.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**څلورمه برخه**

**پایله**

## یوولسم څپرکی




کرزي ژمنه کړې چې له ټاکنو وروسته به واک په سوله ییزه توگه انتقال کړي. د هغه پاتې دورې باید د اړینو اصلاحاتو، په ځانگړې توگه په ملکي برخه کې د اړینو اصلاحاتو پر راوستو وي. د حکومت په لوړو ادارو کې اصلاحات ولایتونو، ولسوالیو او کلیو ته د اصلاحاتو لړۍ غزولای شي. د ۲۰۰۴ز کال په اساسي قانون کې د ولسوالیو شوراگانو د ټاکنو یادونه شوې، خو د دې شوراگانو لپاره لا ټاکنې نه دي شوې. له کابل څخه تر ولایتونو او ولسوالیو پورې د منظمو پرېکړو او د ټول شموله گډون پر بنسټ له یوې خوا سیمه ییزې ادارې پیاوړې کېږي او له بلې خوا ملي یووالي ته بنسټیزه زمینه برابرېږي. د تاریخ په اوږدو کې عدالت د افغان حکومت د مشروع او ښې حکومتولۍ نظریات جوړوي. په عدلي او قضایي ادارو کې بنسټیز اصلاحات به افغانان خوښ کړي ځکه چې افغانان تل له اداري فساد او د پردې تر شا له معاملو ځورېدلي او ځورېږي.

راتلونکي حکومتونه هم باید د کلتوري ارزښتونو، سیمه ییزو دودونو او ژبو په برخه کې اغېزناکه پانگونه وکړي. انگرېزي ژبه د افغانستان د رسمي ژبې په توگه د ټاکل کېدو لپاره هم باید هڅې وشي. له ۲۰۰۲ز کال څخه نړیواله ټولنه په افغانستان کې ښکېله ده، ځکه نو انگرېزي ژبه د حکومت په ادارو او سوداگریزو چارو ډېره کارېږي. د دې نړیوالې ژبې په پرمختیا سره د پښتو او دري ژبې تر منځ د سیالۍ مخه هم نیول کېږي. په دې کار سره به د افغانستان د پوهنې بهیر هم عصري شي.

**پرلپسې سوله**

د افغانستان او پاکستان له اړینو او پراخو همکاریو پرته رښتینې ثبات ناشونی دی. د پښتنو په دوو هېوادونو وېشل کېدل یو بل تازه ټپ دی چې د اقتصادي پرمختگ او ټولنیزې پیاوړتیا مخه یې ډب کړې ده. دې ستونزې ته له حل لارې پرته، هېڅکله شونې نه ده چې دا سیمه به د منځنۍ اسیا او سویلي اسیا، چین او منځني ختیځ تر منځ د یوه پول او پوتنشیل رول ولوبوي. حامد کرزي له ډېره وخته له پاکستان سره د سولې پر بحث پوه شوی دی. هغه د ۲۰۱۰ز کال په مارچ کې له پاکستاني لومړي وزیر یوسف رضاء گیلاني سره یو ځای خبریالانو ته وویل: ((پاکستان د افغانستان ورور هېواد دی. زموږ په منځ کې بېلوالی نشته.))

که ژر وي او که وروسته، دا دوه هېوادونه به د ډیورنډ کرښې پر برخلیک خبرو ته کښېني چې له اویا کلونو راهیسې یې د دواړو هېوادونو تر منځ لانجې را ولاړې کړې دي. د پښتو ژبې یو متل مې را یاد شو: ((اوبه په ډانگ نه بېلېږي.)) دا متل د ډیورنډ کرښې سره ډېر تړاو لري، ځکه یوې ساختگي پولې یو قوم پر سینه پرې کړی چې په ترځ کې یې د دوو هېوادونو تر منځ له لسیزو راهیسې شخړې روانې دي. سیاسي مشرانو هڅه کړې چې پر ډیورنډ کرښه د اوس لپاره سترگې پټې کړې، خو لا هم ستونزه حل شوې نه ده. د اغزن تار له غزولو هم ستونزه نه اوارېږي. په دې وروستیو کې اسراییل او ازبکستان هم د تار غزولو په چاره کې ښکېل شول، هغوی هم د سولې او سیمه ییزې همکارۍ په برخه کې لا ناکام شوي چې منځنی ختیځ له مرکزي اسیا سره ونښلوي.

په ۱۹۸۳ز کال د ډیورنډ کرښه له انگریزانو سره ومنل شوه چې افغانستان هم په وار وار د یوې نړیوالې کرښې په توگه منلې وه. خو په ۱۹۴۷ز کال د پاکستان له جوړېدو وروسته، کابل په بشپړه توگه دا ردوي چې د ډیورنډ کرښه دې په پاکستان پورې اړه ولري، هغوی وایي چې دا چاره یې له انگرېزانو سره کړې وه. افغانان پوهېږي چې په همدې سبب پاکستان د افغانستان په چارو کې لاسوهنه کوي او هلته یې د اسلام پالو پر مټ جگړه تازه ساتلې.

له ۲۰۰۱ز کال راهیسې افغان حکومت تل د پاکستان هغه تورونه رد کړي چې گنې د پښتنو او بلوڅو ملاتړ کوي. په دې اړه کره شواهد هم نشته. کابل بیا په افغانستان کې له بشپړې سولې، امنیت او ثبات سره د ډیورنډ کرښې پر حل د خبرو بحث تړلی بولي. د قومونو او قبایلو چارو وزیر عبدالکریم براهوي د ۲۰۰٦ز کال په اپرېل کې وویل چې ډیورنډ کرښه د یوې رسمي نړیوالې کرښې په توگه نه مني. هغه وویل چې ولسي جرگه د ډیورنډ کرښې په اړه د هېڅ ډول خبرو په اړه عقیده نه لري. نوموړي زیاته کړه چې د لویې جرگې له لارې د ډیورنډ کرښې پر سر خبرو ته لاره اوارېدی شي.

ډېری پښتانه په ځانگړي توگه هغوی چې په افغانستان کې اوسېږي، سیاسي کادورنه یې د ډیورنډ کرښه نه مني. کابل ان په دې اړه د واشنگټن پر دریځ هم نیوکه کوي. د ۲۰۱۲ز کال په اکتوبر کې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانگړي استازي، مارک گروسمن له یوه افغاني ټلویزیون سره مرکه کې ډیورنډ کرښه د یوې رسمي نړیوالې کرښې په توگه ومنله. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت په دې اړه یوه اعلامیه خپره کړه چې هېچا ته د ډیورنډ کرښې د حقوقي برخلیک په اړه د پرېکړې اجازه نه ورکوي. اعلامیه کې ویل شوي و چې ډیورنډ کرښه یوه تاریخي ستونزه ده. **دوام لري...**

# فوق العاده اوسئ

اکسوس کتابپلورنځی


(فوق العاده اوسئ) مانا دا چې د معمول پر خلاف اوسئ، د رابین شرما هغه کتاب دی، چې په لوستلو سره یې تاسو کولای شی په شخصي ژوند او دنده کې د بریا لارې چارې زده کړئ، نبوغ مو را وېښ کړئ او مینه تجربه کړئ، څو خپلو ټولو هغو هیلو ته ځان ورسولای شی چې په زړه کې مو څپې وهي.

په دې کتاب کې رابین شرما خپل نوي افکار په (۱۰۱) درسونو کې په ډېر ساده، خو قوي ډول راوړي چې په زده کولو سره یې تاسو کولای شی د ژوند له خوندونو څخه برخمن شئ، وده وکړئ، خلکو ته خیر ورسوئ او داسې ژوند وکړئ چې د خلکو زړونو ته لار پیدا کړئ.

کېدای شي تاسو هم له داسې یوه حالت سره مخ شوي وئ، ځینې وخت سړی ناهیلی شي، پر خپلو هیلو باور لري، لټون یې کوي، خو بیا هم نه ورته رسېږي او یا تاسو فکر کوئ چې نه شی ورته رسېدای. په اصل کې هره پرېکړه او ستاسو هر گام مهم او د ارزښت وړ دی. تاسو باید د یوې ډېرې ماتوونکې په څېر صبر او حوصله ولرئ. ډېرې ماتوونکې هره ورځ ډېرې ماتوي، خو ځینې وخت د هغوی یوه ډېره ساده ضربه د دې لامل کېږي، چې ډېره ماته کړي او الماس پکې را ښکاره شي. هغه کسان چې په کارو بارو کې د پرمختگ او د ژوند د ښایست او ښکلا لپاره هڅې کوي، هغوی ته باید ارزښت ورکړل شي او د هڅو درناوی یې وشي.

د دې کتاب لیکوال رابین شرما وایي، په هره تیاره پسې رڼا وي او دا د ژوند قانون هم دی. نو وېره مو له زړه وباسئ، اوږو ته مو څنډ ورکړئ او استوار گامونه واخلئ. له ستونزو سره مخ شئ، د حل لار ورته ولټوئ او مبارزه ور سره وکړئ. له ستونزو سره مخ کېدل تاسو قوي کوي او ژوند کولو ته مو هڅوي. بریا د هغه چا په برخه ده چې په لټون پسې یې راوتلي وي.

ژوند په اصل کې یوه انډول او توازن ته اړتیا لري او په دې برخه کې تر ټولو حیاتي یې د ازادۍ او مسوولیت تر منځ انډول ساتل دي. که غواړئ تیارې ته پېغور ورکړئ، نو شمع روښانه کړئ او د یوه رهبر په څېر ځان را څرگند کړئ. دا مو باید په یاد وي چې زړور خلک په ځان پسې د خلکو خندا ته ارزښت نه ورکوي او بې ارزښته یې گڼي. موږ د خپل ژوند مسوول یو، دا زموږ دنده ده چې خپلې موخې مشخصې کړو او د رسېدو لپاره یې لاس پکار شو. د کتاب لیکوال وایي، ما دا زده کړي چې ژوند تل تاسو هغه ځای ته رهنمایي کوي، چې تاسو یې غواړئ، خو ځینې وخت تاسو دغه څه نه




شي درک کولای. دی وایي، د ژوند درس زده کول څه اسانه هم نه دي، زه خپله تر اوسه د دې مدرسې زده کوونکی یم. د نن کار ولې باید سبا ته پرېږدی؟، د ژوند د لوبې لوبغاړی ولې چې همدا اوس یې د لوبېدو وخت دی، خپله وړتیا او انرژي بل وخت ته وسپموي؟ له ژوند څخه د خوند اخیستو لپاره ولې بوډاتوب ته په تمه یاست؟ اوس د دې وخت را رسېدلی چې د دې کتاب په لوستلو سره خپلې ورځې رنگینې کړئ، د ژوند له ښایستونو همدا نن خوند واخلئ. وخاندئ، مینه وکړئ، هیلې مو را وسپړئ او ورته د رسېدو لپاره یې متې را بډ وهئ. د قانون په چوکاټ کې داسې ژوند وکړئ چې د خپل راتلونکي نسل لپاره یوه الگو اوسی او په نامه مو افتخار وکړي.

مینه وال کولای شي دغه کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار په نورو لویو کتابپلورنځیو کې هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د سیمه ییزو حکومتونو مدیریت | نقیب الله ثاقب او حصرت جعفر عرب | ۳۰۰ؤ |
| ۲ | تاریخ معاصر افغانستان | اکبر جان آرزومند | ۲۰۰ؤ |
| ۳ | تکړه شه! | رابین شرما/جبار فراز | ۱۲۰ؤ |
| ٤ | ته نوښتگرېې! | یوکام کیونگ/ محمد داود سلیم | ۱۰۰ؤ |
| ٥ | د بابل خان | جورج اس. کلاسن/ جبار فراز | ۱۳۰ؤ |
| ٦ | هغه راهب چې خپل فراري موټر یې خرڅ کړ | رابین شرما/جبار فراز | ۱۴۰ؤ |
| ۷ | د افغانستان د (406) واکمنانو لنډه پېژندنه | عبدالمالک فیضان او شمس الدین شمس | ۱۲۰ؤ |
| ۸ | د افغانستان معاصر تاریخ او تړونونه | وصلي خان ملاخېل | ۱۰۰ؤ |
| ۹ | ستراتیژیک مدیریت | فرېډ. آر. ډېوېډ/میراحمد یاد | ۲۷۰ؤ |
| ۱۰ | پروژې مدیریت پوهه او مهارتونه | قدرت الله هېوادپال | ۲۰۰ؤ |
| ۱۱ | مبانی سازمان و مدیریت | دکتر علی رضائیان | ۳۵۰ؤ |
| ۱۲ | سازماني چلند | ربانی زلمی او فهیم الله عطاء | ۱۳۰ؤ |
| ۱۳ | پر رسنیو د نامسلکیتوب اغېز | محمدخان ذهین | ۵۰ؤ |
| ۱٤ | فوق العاده اوسئ | حمیدالله حمیدي | ۲۵۰ؤ |
| ۱٥ | زندگینامه چه گوارا خاطره های جنگ چریکی | احمد ارشاد آریزاد | ۱۵۰ؤ |
| ۱٦ | بریا ته لار | ناپېلیون هیل/حسیب الرحمن ساحل | ۱۵۰ؤ |
| ۱۷ | تاتره | قدرت حلیم | ٦۰ؤ |
| ۱۸ | د کیسو کیسې کره کتنه | ایمل پسرلی | ۱۰۰ؤ |
| ۱۹ | مسکا | شاهد سمسور | ۵۰ؤ |
| ۲۰ | سترې هیلې | چارلز ډیکنز/ منتشر شاهي | ۱۲۰ؤ |
| ۲۱ | کوچی ملا | محمد صدیق پسرلی | ۱۰۰ؤ |
| ۲۲ | یوه خبره درته وکم؟ | نصیراحمد احمدي | ۱۰۰ؤ |
| ۲۳ | خونکار | نصیراحمد احمدي | ۷۰ؤ |
| ۲٤ | شیوه های تغیر رفتار | ریموند میلتن برگر/ علی فتحی آشتیانی و هادی عظیمی آشتیانی | ۲۰۰ؤ |
| ۲٥ | د ماشوم په روزنه کې د مور ونډه | معصومه کمالي/ یاسمین کریمي | ۸۰ؤ |
| ۲٦ | احصائیه | افتخار الله فخر | ۱۵۰ؤ |
| ۲۷ | ښهحکومتوالي | ذبیح الله رحیمزی | ۱۰۰ؤ |
| ۲۸ | نوې تېروتنې، گټورې پاملرنې | محمداشرافعلیتهانوی/رفیعاللهنعمانی | ۱۵۰ؤ |
| ۲۹ | اسلامي اقتصاد او بانکوالي | عبدالحق حقاني | ۲۲۰ؤ |
| ۳۰ | بانک سوالات مدیریتی | عزت الله توحیدی فرخاری | ۲۸۰ؤ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

همیانی

# که اولادونه لرئ، دا غوښتنې ترې مه کوئ

ژباړه: امان الله «حنیفي»

د ماشوم د عمر تر ټولو لومړي کلونه ډېر مهم دي. دا کلونه د یو ماشوم پر راتلونکي ډېر زیات اغېز لري. هغه څه چې په دې کلونو کې هرڅه کوي، د هغه راتلونکی ټاکي. بې له شکه، په دغه دوران کې د ماشوم روزونکي مور او پلار او یا هم هغه کسان دي، چې له هغوی مراقبت کوي. ماشومان د لویانو حرکاتو ته تر هرڅه زیاته توجه کوي او د هغوی په هینداره کې نورو ته ګوري. نو پر دې اساس، دا تاسې یاستی چې د خپل ماشوم شخصیت ټاکی، اوس خوښه ستاسې، څنګه یو څوک ترې جوړوی؟

البته مور او پلار هر وخت غواړي چې اولادونه یې ښه وروزي، خو ځینې وخت د دوی ځینې حرکتونه سره له دې چې هغوی یې د ښه نیت له مخې کوي، خو پایلې یې بیا سرچپه وي. موږ په همدې مقاله کې هماغه ځینې کړنې تاسې ته ښیيو:

**۱ـ هېڅکله له ماشوم څخه دا هیله مه کوئ چې ستاسې په حق کې دروغ ووایي**

څومره بده خبره: «ورته ووایه! پلار/مور مې کور کې نشته.»

پلار او مور هر وخت خپل اولادونه دې ته هڅوي چې صادق او رښتیني و اوسي. خو له دې سره سره، کله یې چې په زړه نه وي جوړه او یا نه غواړي له چا سره ووینې، بیا خپلو ماشومانو ته وایې چې فلاني ته ورته وایه چې مور/پلار مې کور کې نشته. دا کار مو له اولادونو سره کړې خواري له منځه وړي او د هغوی پر وړاندې مو حیثیت بې ارزښته کېږي.

څه کار باید وکړی؟ کله چې ماشوم ته وایی چې ټلیفون ته ځواب ورکړی، هغوی ته ووایئ چې رښتیا ووایي. د بېلګې په ډول، له هغوی وغواړئ چې هغه کس ته ووایي: «مور/پلار مې نه شي کولای اوس له تاسې سره خبرې وکړي. وروسته به هغه خپله درته زنګ ووهي.» که مو یو څوک د کور د دروازې زنګ وهي او تاسې نه شی کولای چې له هغوی سره وګوری، دا وخت مو ماشوم ته ووایئ، چې له هغوی سره داسې برخورد وکړي: «لطفاً تاسې همدلته پاتې شئ، زه مې د مور او پلار له اجازې پرته کور ته څوک نه شم بېولی».

**۲- هېڅکله مو اولادونه یو له بل سره مه پرتله کوئ**

څومره بده خبره: «ته نه شې کولای چې د خور/ ورور په څېر دې ښه کار وکړې؟»

د اولادونو له یو بل سره پرتله کول د مور او پلار تر ټولو لویه تېروتنه ده. په دې سره مو له یوې خوا د اولادونو په منځ کې توپیر رامنځ ته کوی او له بلې خوا ممکن د هغوی په منځ کې ناسالم رقابت ته لمن ووهی، چې بیا به کلونه کلونه وغځېږي. ستاسې ماشومان حتماً له یو بل سره توپیر لري او دا هېڅ ممکنه نه ده چې هغوی ټول د یو شان وړتیاوې او استعدادونه ولري.

معمولاً مشران اولادونه د نورو لپاره د کار او خبرو او یا هم له نورو سره د اړیکو پاللو او یا کار د کولو د څرنګوالي په لحاظ د نورو اولادونو لپاره یوه بېلګه نیول کېږي. دا لویه تېروتنه ده، ځکه له هغوی کشران اولادونه د ځانګړو او هغو وړتیاوو درلودونکي دي، چې مشران هغه یې هېڅ نه لري، د هغوی ستاینه هم باید وشي. دا انتظار او هیله هېڅ وخت مه کوئ، چې ستاسې ټول اولادونه د یو شان وړتیاوې او مهارتونه ولري. که د یو اولاد زوی/لور سلوک او عمل د نورو لپاره معیار ګرځوی، هېڅ ښه پایله به تر لاسه نه کړی.



**۳- اولادونو ته مو دا اجازه مه ورکوئ چې هغوی د ځان په اړه د ګناه احساس وکړي**

اولادونو ته مو دا اجازه مه ورکوئ، چې د خپلو کړنو له امله د ګناه احساس وکړي.

څومره بده خبره: «مخکې له دې چې ته دنیا ته راشې، زموږ ژوند ډېر ښه و.»

څنګه کولای شی یو ماشوم ته داسې څه ووایی؟

ممکن دا جمله حقیقت ولري، ځکه د هر ماشوم په زیږېدنې سره کورنۍ له ډېرو نویو فعالیتونو سره چې باید وې کړي، مخ کېږي، خو تاسې مو نه باید دا جمله خپلو ماشومانو ته ووایئ. تاسې هغه څوک یاستی چې دې دنیا ته د هغوی د راتګ لامل شوي یاستی، نو ښه ده چې د هغوی مسوولیت په ورین تندي ومنئ او د هغوی لپاره یو ښه مور او پلار و اوسئ.

هغه وخت چې تاسې ستړي یاستی او یا مو هم ماشومان کومه ستونزه پېښوي، د دې پر ځای چې هغوی ورټی او هغوی د ځان په اړه د ګناه احساس ته اړکړی، له هغوی سره د مینې په لهجه خبرې وکړئ او هم ورته د مینې په الفاظو لارښوونه وکړئ. د بېلګې په ډول، هغوی ته ووایئ: «مور/ پلار مو پرېږدی چې یو څو دقیقې ارام وکړي، یا هم داسې چې که تاسې مو مور/پلار یو ساعت پرېږدی، هغه به یوه حللاره درته پیدا کړي». په دې دول برخورد هغوی داسې فکر کوي، چې ټول مسوولیت د هغوی پر غاړه نه دی.

**۴- داسې کوم کار مه کوئ چې له امله یې ستاسې ماشوم د ګناه احساس وکړي**

څومره بده خبره: «ته ډېر ځان غوښتونکی یې.»

دا په یاد لری چې ماشومان ستاسې هماغه د لومړیو ورځو خبرې هم په یاد لري، دا په دې مانا چې که کټ مټ یې هغه الفاظ په یاد نه وي، د هغوی اغېز خامخا پرې شته. که مو له ماشومانو سره ښه سلوک کړی وي، دا د هغوی پر کړو وړو اغېز کوي او هېڅکله به ترې بدې خبرې وا نه وری.

ماشومانو ته مو دا اجازه ورکړئ چې ستاسې په مخکې یو کار سر ته ورسوي، ځکه که د دغه کار پر مهال چې تاسې ورته هر ډول سپارښتنه وکړی، هغوی یې نه هېروي. د بېلګې په ډول، د هغوی په لاس له یو غریب سړي سره مرسته وکړئ او یا یې هم د ګاونډي کور ته د هغوی پوښتنې کولو ته له ځان سره بوځئ.

**۵- مه پرېږدئ چې ماشومان مو هر وخت د ځان په حق کې فیصله وکړي**

څومره بده خبره: «کله چې د نورو پام نه وي، لاړ شئ په اول کتار کې ودرېږئ.»

«یوازې ځان ته پام کوه، نه غواړم چې دې نورو په حق کې مړ شې.»

«ته هر وخت په حقه یې.»

معمولاً هر وخت ځان په حقه ګڼل هماغه له لومړیو د یو چا په طبیعت کې اخښل کېږي. که مو ماشوم ته وویل چې تاسې هر وخت په حقه یاستی، دا مسئله د هغه لپاره د خشونت، ناامیدی، د اړیکو د خرابوالي او بالاخره له خلکو د ګوښه والي لامل کېږي.

ماشومانو ته مو ښایاست چې هر ځای نظم مراعات کړي. که هغوی ته وایی چې باید په اول کتار کې ودرېږي، ورته ووایئ چې باید تر ټولو مخکې هغه ځای ته ځان ورسوي.

## د سولې عالي شورا: د خلیلزاد تازه سفر به د سولې د هوکړې لاسلیک ته زمینه برابره کړي

د سولې عالي شورا ویلي، قطر ته د زلمي خلیلزاد تازه سفر به د سولې د هوکړې لاسلیک ته زمینه برابره کړي.

د دې شورا مرستیال عزیزالله دین محمد ازادي راډیو ته ویلي، چې د ده د معلوماتو پر بنسټ، طالبان د جګړې او تاوتریخوالي له کمولو سره توافق کوي.

نوموړي ویلي: «د تاوتریخوالي کموالی د سولې د هوکړې لاسلیک او دغه راز بین الافغاني مذاکراتو ته لاره خلاصوي. څومره چې زه پوهېږم، د اوربند رسمي اعلان به طالبانو ته ګرانه خبره وي، خو د تاوتریخوالي د کموالي خبره به ومني».

بلخوا د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویاندې ناجیې انوري ویلي چې افغان حکومت هیله من دی، چې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې خبرې نهایي شي او کومه هوکړه چې تر لاسه کېږي، د افغانستان د ملي ګټو او د خلکو د غوښتنو خلاف نه وي.

دا په داسې حال کې ده چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد د یکشنبې په ورځ له طالب استازو سره د خبرو لپاره قطر ته لاړ.

که څه هم ځینې راپورونه وایي چې نوموړي د طالبانو د مشر له مرستیال ملا عبدالغني برادر سره غیر رسمي خبرې کړې، خو لا تر اوسه د دواړو خواوو د خبرو په اړه جزیات نه دي خپاره شوي.

په ورته وخت کې امریکا تر دې وړاندې له طالبانو غوښتي وو چې د سولې د هوکړې له لاسلیک مخکې اوربند ومني.

په قطر کې د طالبانو استازو په دې اړه له خپلو مشرانو سره سلا مشورې کړې، خو جزیات یې لا نه دي په ډاګه کړي.

د یادونې ده چې امریکایي چارواکو او طالب استازو د ۲۰۱۸ میلادي کال د اکتوبر له میاشتې تر اوسه لس پړاوه خبرې کړې، چې یوځل په عربي متحده عربي اماراتو کې او نهه ځلې په قطر کې شوې دي.

## سناتوران: حکومت دې ژر تر ژره د ځانګړو ځواکونو د عملیاتو مخه ونیسي

مشرانو جرګه وایي، ژر تر ژره دې د افغان ځانګړو ځواکونو عملیات بند شي.

سناتوران د ځانګړو ځواکونو د وروستیو عملیاتو په غبرګون کې وایي، چې صفر یو او صفر دوه قطعې ډېری وخت د خپلو عملیاتو پر مهال عام خلک په نښه کوي او باید ژر تر ژره یې د حکومت له لوري مخه ونیول شي.



دا په داسې حال کې ده چې ځانګړو ځواکو په تازه عملیاتو کې د پخواني جهادي قوماندان آمر ستار په ګډون، په کابل کې پنځه کسان ووژل او له دې وړاندې یې د پکتیا، لوګر، ننګرهار، هلمند او پکتیکا ولایت په ګډون، په ډېرو ولایتو کې ملکي خلکو ته مرګ ژوبله اړولې ده.

سناتوران د ځانګړو ځواکونو وروستي عملیات د ملکي تلفاتو اساسي عامل بولي او وایي، چې په دا ډول عملیاتو کې د ترهګرو پر ځای عام خلک په نښه کېږي.

دوی له حکومته غوښتنه کوي چې ژر تر ژره د صفر یو او صفر دوه قطعو عملیات بند کړي.

د مشرانو جرګې غړی محی الدین منصف وایي: «د ملي امنیت دا کار چې په ننګرهار، لوګر، میدان وردګ، کاپیسا او جنوبي ولایتونو کې یې په خطرناکو عملیاتو کې ملکیان ووژل، د بښنې وړ نه دی او حکومت باید ژره تر ژره د دا ډول عملیاتو مخه ونیسي».

په ورته وخت کې سناتوران له عدلي او قضایي ادارو هم غواړي چې د ځانګړو ځواکونو په عملیاتو کې د اوښتو تلفاتو په تړاو څېړنې وکړي.

په ورته مهال د مشرانو جرګې غړي د امریکا او طالبانو تر منځ د مذاکراتو د ژر تر ژره بیا پیل غوښتنه کوي او زیاتوي چې د امریکا او طالبانو تر مذاکراتو وروسته دې بین الافغاني مذاکرات پیل شي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۵۰ |
| € | ۸٦,۲۰ |
| Rp. | ٤۷۹ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۱ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمیري

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL Printing Co.
وایگل چاپ
if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومې ۱۸مه | د ۲۰۲۰ د جنورې اتمه | ٤٩٤یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۲- | ۱۰ | ۱۰ | ۹ | ۱۳ |
| ١٤- | ۳- | ۳- | ۲- | ۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۲ | لمر ختل ۰۷:۰۰ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیګر ۰۲:۴۰ | ماښام ۰٤:۵۸ | ماخوستن ۰٦:۲۷

## نړۍ



**سپاه پاسداران: هغه ځایونه به وسوځوو چې امریکا یې ملاتړ کوي** ۳

## زمان: به تعداد یک‌صد بست در وزارت خارجه تنقیص می شود




وزارت امور خارجه می گوید که بر اساس بستهٔ اصلاحی این وزارت، یک‌صد بست تنقیص، چهار ریاست و دو معینیت ادغام می گردد که در نتیجهٔ آن، سالانه حدود یک میلیارد افغانی صرفه جویی می شود.

ادریس زمان سرپرست وزارت امور خارجه، دیروز در یک نشست خبری در کابل گفت که بستهٔ اصلاحی این وزارت، در چهار محور متمرکز است.

وی افزوده است که این بسته، شامل متحول ساختن دستگاه سیاست خارجی، متحول ساختن نحوهٔ استخدام، ارتقاء، مکافات و مجازات، متحول ساختن پروسه های کاری و زیربنایی تکنالوژی معلوماتی و ایجاد سهولت برای ارائه خدمات قونسلی معیاری می باشد.

وی گفته است که به اساس این بسته، بیش از یک‌صد بست تشکیل خارجی تنقیص می شود و ۷۸ بست از تشکیل داخلی، به تقاعد سوق داده می شود.

موصوف علاوه کرده است که تنقیص در تمامی نمایندگی ها صورت مي گیرد و بر اساس آن، تنقیصات تشکیل حداقل در ۴۴ نمایندگی، تعداد دیپلومات ها کمتر از پنج؛ در ۱۳ نمایندگی، تعداد دیپلومات تا شش؛ و در ۱۳ نمایندگی دیگر، تعداد دیپلومات ها بیش از شش خواهند بود. زمان، با اشاره به اینکه از اثر تنقیصات سالانه حدود یک میلیارد افغانی صرفه جویی می شود، گفته است که این پول، در چند سال اول در بخش های ارتقای ظرفیت های کاری وزارت و خرید جایدادها برای نمایندگی های خارجی افغانستان به مصرف میرسد.

# له کشمیریانو سره د ځان برخلیک ټاکلو حق او نابشپړې شوې ژمنې

لیکنه: حسیبه کاکړ

هر کال د جنوري په پنځمه د کشمیر خلک د خپل برخلیک حق ورځ لمانځي. که څه هم تر نن ورځې پورې دا مسئله حل نه ده. ملګرو ملتونو، بشپړ بشریت ته د خپلواکۍ د حق ژمنه کړې ده. په هر صورت، لاهم په دې ځمکه کې داسې خلک شته، چې له دې «حتمي حق» څخه بې برخې دي. یو یې زموږ ختیځ ته او بل یې لوېدیځ ته فلسطین او کشمیر هغه ځمکې دي، چېرته چې ظالمان واکمن دي، چیرې چې وینه له اوبو څخه ارزانه ده او چیرې چې وحشت او شکنجې د ورځې کار دی، دا هغه ځمکه ده چې انسانیت پکې له بده مرغه ناکام دی.

د خپل برخلیک حق د نړیوال قانون اصل دی، چې د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې په سمه توګه روښانه شوی دی. د ملګرو ملتونو د منشور دویمه ماده وایي، چې دا د ملګرو ملتونو له موخو څخه یوه ده، چې د مساوي حقونو او د خلکو د خپل ځان برخلیک ټاکلو اصولو ته د درناوي پر بنسټ، د ملتونو تر منځ دوستانه اړیکې رامنځ ته، نور مناسب ګامونه او نړیواله سوله قوي کړي. په ورته ډول د سازمان د اهدافو لېست کول د ملګرو ملتونو د منشور ۵۵مه ماده د ځان برخلیک ټاکل د ثبات، هوساینې او د هیوادونو تر منځ د سولې او دوستانه اړیکو لپاره اړین ګڼل کیږي.

استعماري هیوادونو او خلکو ته د خپلواکۍ ورکولو په اړه د ځان د برخلیک حق، د ملګرو ملتونو له خوا بیا تکرار شو او د دې پرېکړې ۱۵۱۴ (XV) نېټه د ۱۹٦۰ ز کال په ډسمبر کې تایید شوه. په هر صورت، د ځان د برخلیک حق تر ټولو پراخه UNGA پرېکړه لیک د ۱۹۷۰ ز کال د اکټوبر په ۲۴مه د ملګرو ملتونو د پرېکړې په ۲٦۲۵ پرېکړه لیک (XXV) کې ورکړل شوې وه، چې پکې ویل شوي وو: «د ملګرو ملتونو په منشور کې شامل د وګړو د مساوي حقونو او د ځان برخلیک ټاکل اصول. د ټولو وګړو حق په خپلواک ډول له بهرني مداخلت پرته د هغوی سیاسي موقعیت ټاکلو او د دوی اقتصادي، ټولنیز او کلتوري پرمختګ او همدارنګه د هر ریاست دنده ده، چې د منشور له احکامو سره سم دې حق ته درناوی وکړي. د ۱۹۸۲ ز کال د ډسمبر په دریېمه د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلۍ ۴۳/۳۷ پرېکړه لیک تصویب کړ، چې د ځان د برخلیک حق خلکو ته په نه ورکولو کې وسله وال مقاومت به تر ډېره بریده لوړشي.

په داسې حال کې چې د ځان د برخلیک ټاکلو حق په ۲۳ قضیو کې منل شوی او کارول شوی دی. دا هرڅه د دې هېوادونو په شمول شوي دي: (د ناګورنو - کراباخ جمهوریت، آسټرالیا، ازواد، باسکي هیواد، بیافرا، کاتالونیا، چیچنیا، ختیځ اوکراین، ختیځ تیمور، فاکلینډ ټاپوګان، جبرالټر، هانګ کانګ، کردستان، ناګالیم، شمالي بورنیو او ساراواک، شمالي قبرص، کیوبیک، سکاټلنډ، سویلي افریقا، سویل ټایرول، متحده ایالات، لوېدیځ پاپوا او لوېدیځ صحارا). دلته یوازې دوه استثنا فلسطین او کشمیر دي، چیرې چې خلک له ۷۰ کلونو راپدېخوا پر سخت ظلم او تېري سربېره لا هم محروم پاتې شوي.

کشمیر چې تر برېټانوي واکمنۍ لاندې امپراتورۍ په ۱۹۴۷ ز کال کې د وړې وچې د وېش پر مهال په هند یا پاکستان کې د شاملېدو فرصت درلود، په هر صورت، د هندو مهاراجا هري سینګ د واکمنۍ واکمن د خپلو خلکو تر غوښتنې او سخت فشار لاندې و. کشمیر د مسلمانانو اکثریت سیمه وه چې په سلو کې ٦٨.٣١ سلنه مسلمانان لري او د هندوستان د وېش پر اساس، کشمیر باید پاکستان ته لاړ شي، ځکه چې د اکثریت خلکو غوښتنه وه. د کشمیر خلکو د مهاراجا د غیر عادلانه پرېکړې پر ضد پاڅون وکړ او د خپلواکۍ د حق په لټه کې شول.

هندوستان دغه مسئله د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته واستوله، چې په تعقیب یې د ۱۹۴۸ ز کال د اپریل په ۲۱مه UNSC ٤۷ پرېکړه لیک تصویب کړ، چې په کې د ملګرو ملتونو تر ملاتړ لاندې، د یوه فرصت د جوړېدو غوښتنه شوې وه، په کوم کې چې د دې دریو هېوادونو خلکو کولی شوی په آزاده توګه د خپلواکۍ خپل حق وکاروي. په پرېکړه لیک کې راغلي دي چې «هند او پاکستان دواړه د دې خوښۍ په څرګندولو سره غواړي، چې د جمو او کشمیر د لاسلیک کېدو مسئله دې د یوه آزاد او غیر پلوي غوښتنې ډیموکراټیک میتود له لارې حل شي. ټول پوښتنه د وشي او د یوې اداري جوړولو ته دې لار هواره شي.

په تعقیب، کله چې ګوډاګی کشمیري مجلس په غیرقانوني ډول د هندوستان له خوا د کشمیر اړوند مسئلې ته د قانوني پوښښ ورکولو هڅه وکړه، د ملګرو ملتونو امنیت شورا د ۱۹۵۱ ز کال د مارچ په ۳۱مه پرېکړه لیک تصویب کړ. په پرېکړه لیک کې راغلي چې:

«د حکومتونو او چارواکو په یاد دي چې د ۱۹۴۸ ز کال د اپریل په ۲۱مه ۴۷ پرېکړه لیک، د ۱۹۸۵ ز کال د جون په دریېمه ۵۱ پرېکړه لیک، له ۱۹۴۸-۱۹۵۰ ز کاله د مارچ په ۱۴مه ۸۰ پرېکړه لیک او د هندوستان او پاکستان لپاره د ملګرو ملتونو کمېسیون د ۱۹۴۸ ز کال د اګست په ۱۳مه او د همدغه کال د جنوري د پنځمې پرېکړه لیک چې د جمو او کشمیر وروستی تحلیل به د خلکو د ډیموکراټیکي میتود له مخې، د آزاد او غیر پلوي غوښتنې له مخې، څرګند کړل شي چې د دوی تر نظارت لاندې به تر سره شي».

تایید کیږي چې د «ټول جمو او کشمیر ملي کنفرانس» د عمومي شورا له خوا وړاندیز شوی د اساسي قانون شورا راوبلل شي او هر هغه څه چې مجلس پرې پرېکړه وکړي، که د ټول ریاست برخې په راتلونکي پورې تړلي وي، له پورتني اصل سره سم د دولت ریاست تر سره کیږي.

د دې باور څرګندول چې دا د امنیت شورا دنده ده چې د نړیوالې سولې او امنیت ساتلو لپاره خپل لومړنی مسوولیت پر غاړه واخلي، څو ښکلې خواوې د کشمیر د شخړې هوارې ته د رسېدو لپاره مرسته وکړي او دا چې د دې شخړې سمدستي هواری د نړیوالې سولې او امنیت حیاتي اهمیت لري.

مګر تر اوسه هم حالات ښه نه دي. د ۲۰۱۹ ز کال د اګست په پنځمه کله چې هندوستان اساسي قانون ۳۵-A او ۳۷۰مه ماده لغوه کړه. دې کار د هندوستان حکومت ته اجازه ورکړه چې کشمیر پر دریو برخو ووېشي، د تقسیم او قانون پالیسي، د ۳۵-A مادې په دې مانا وه چې اوسمهال د ټول هند خلک په کشمیر کې ژوند کولی شي، څو خپل ډیموګرافیک ترکیب بدل کړي، په دې توګه په کامل ډول په کشمیر کې د اسراییلو ماډل معرفي کیږي، چې تر نن ورځې پورې دوام لري. د پېښې د ننه او بهر ټول حرکتونه محدود کړي، د ټلیفون ټول لاینونه او انټرنېټي خدمات یې بند او په عملي ډول یې د کشمیریانو ټول وګړي په نظر بند حالت کې قرار لري. د جوماتونو دروازې وتړل شوې، اذان ممنوع او له امنیتي ځواکونو سره د ظالمانه ظلم یو بل دوره یې ځوانانو باندې کلابند کړ. وروسته د وژنو لړۍ پیل شوه، په سلګونو کشمیري مسلمانان ووژل شول، خو خلک د هغه څه په لټه کې نه شول چې د دوی حق او د ځان برخلیک حق یې څه دی.

په داسې حال کې چې زه دا لیکونه لیکم، دا له هغو ۱۵۰ ورځو څخه زیات دي په کومو کې چې شکنجه کول او وژنه د ورځې حکم دی.

که چیرې دا کاپي نه وي، نو د هند حکومت د تابعیت ترمیم بل غوښتنه وکړه، چې له مخې یې مسلمانان نه شي کولی د هندي تابعیت غوښتنه وکړي. یوازې په پام کې ونیسئ که چیرې یو کشمیري مسلمان د هندي تابعیت تر لاسه کولو غوښتونکی وي، نو هغه به بې برخې شي، تصور وکړئ، تاسو د هغې ځمکې ملکیت نه شی کولی چې له پېړیو راهیسې په تاسو پورې اړه لري. کشمیریان نن ورځ په خپله خاوره کې اجنبیان دي.

هند په جمو او کشمیر کې د UNSC اړونده پرېکړه لیکونو پلي کولو پر ځای، د هندوستان نامتو لوی ډیموکراسۍ او د هغې درناوي وړونکي جواهر لال نهرو له خوا د هغې ژمنې درناوي کولو پر ځای، چې یې خپله اردو او امنیتي ځواکونه پر بېچاره کشمیریان را خوشي کړل. په تیرو ۷۰ کلونو کې په جمو او کشمیر کې د هندي امنیتي ځواکونو له خوا د بشري حقونو غیر معمولي سرغړونې د هندوستان په شمول، د بشري حقونو او حقوقي سازمانونو په لوی شمیر ثبت شوي دي.

نړۍ د اګست په پنځمه د مودي د حکومت عمل او د تابعیت قانون غندلی دی، مګر دا اړین دي چې د ۱۹۴۹ ز کال د جنوري په پنځمه چې کومه ژمنه د کشمیر له خلکو سره د خپلې خپلواکۍ د حق لپاره شوې وه، هغه پوره کړي.